# د عبدالرحمان بابا او عبدالقادر خان خټک په کلام کښې د قراني تعليماتو تقابلي جاج

# A comparative analysis of Quranic Teachings in Poetry of Rehman Baba and Abdul Qadir Khan Khatak

ډاکټر کرن سنين*
ډاکټر فقير محمد ♠

**Abstract:**

Eleventh hijri has great importance in Pashto literature. In this century in one side the great and popular poet of Pashto, Rahman Baba was born and the on the other si de Abdul Qader Khan Khattak the successor of Khushal Khan Khattak school of thought was born.In Pashto literature on one side we have the simplicity and sweetness of description of Rahman Baba and on the other side we have the pomp and popularity of comprehensiveness of Abdul Qader Khan Khattak.In all Classic poets have moral values and also Quranic Teaching of ethics. In this article, the teaching and concept of Quranic verses same presented by Rehman baba and Abdul Qadir Khan Khatak.The comparison of similarities given in this article in detail. In this research the comparative study of the qualities of these two poets is estimated and evaluated.

**Key words:**Pashto, Poet, Rehman Baba, Quran, Abdul Qadir Khan Khatak.

يولسمه هجري پېړۍ پښتو ادب کښې يوه داسې پېړۍ ده چې که يو طرف په کښې د پښتو پلار خوشحال خان خټک زېږولی دی،نو بل طرف ته په کښې د پښتنو پلار عبدالرحمان بابا پيدا شوی دی چې ټول پښتون اولس، هر خاص و عام ورته بې ويرې بې وسواسه د مينې او اخلاص له کبله په شريکه بابا وائي. د پښتو ادب دغه دواړه ستوري د هيڅ تعارف محتاجه نۀ دي.

نۀ يوائې دا بلکې په دې پېړۍ کښې د دې دواړو اتلانو تر څنګ د پښتو ادب نور هم ډېر نوموړي زېږېدلي دي. په دې نوموړو کښې يو نوموړی عبدالقادرخان خټک هم دی. عبدالقادر خان خټک د خوشحال خان خټک زوی دی. د دۀ خپل ادبي مقام په خپل ځائې مسلم دی. ولې دومره پام ورته نۀ دی ورکړی شوی څومره ئې چې حق دی. د دې غټه وجه دا هم کېدی شي چې دی مونږ نه د د دې دواړو باباګانو په شا پټ پاتي شوی دی. په ګڼو موضوعاتو ئې شاعري کړې ده. د حسن او عشق، د ژوند او کائنات او د تصوف مضامين ئې د يادونې وړ دي.

---

♣ Director, Pakhtunkhwa Study Centre, University of Bacha Khan, Charsada
♠ Lecturer, Pakhtunkhwa Study Centre, University of Bacha Khan, Charsada

هسي خو که اوکتی شي نو د مضمون په لحاظ د یولسمي او دولسمي هجري پېړیو د شاعرانو زمکه یوه ښکاري. خو فرق صرف د لفظونو د شعري ښکلا دی. دلته مونږ د عالمګیر عبدالرحمان بابا او د عبدالقادر خان خټک د هغه شعرونو پرتلیز جاج اخلو، په کومو کښې چې دوي قراني مضمون بیان کړی دی.

آدم علیه السلام چې د ټولو انسانانو پلار دی. د آدم د پیدائش متعلق الله تعالی فرمائي:

" وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنْسَانَ مِنْ سُلالَةٍ مِنْ طِينٍ " (1)

**ژباړه**: "او خامخا په تحقیق سره پیدا کړی دی مونږه انسان له خالصي صافي(چونړ کړی شوی) له ختو نه."(2)

" وَاللهُ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ "(3)

**ژباړه**: " او خدائی پیدا کړي یئ تاسی له خاورو نه "(4)

دغه مضمون دوي داسي بیانوي:

عبدالرحمان بابا:

"زۀ دې پېژنم په اصل کښي خاکي ئې
ځان به څو څنډې پـه ګوته له ترابه"(5)

عبدالقادرخان خټک:

"چـې پیدا ئـې کـړۀ ادم له ماء او طینه
روح ئې کړه له خپله روحه په کښي دم"(6)

په کائنات کښي انسان د ټولو نه حسین او مکرم مخلوق دی. الله تعالی فرمائي:

" لَقَدْ خَلَقْنَاالْإِنْسَانَ فِيْ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ "(7)

**ژباړه**: " خامخا په تحقیق سره پیدا کړی دی مونږه انسان په ښۀ شکل کښي "(8)

" وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْ آدَمَ "(9)

**ژباړه**: " او په تحقیق عزت ورکړی دی مونږه زامنو د آدم لره "(10)

هر کله دغه مکرم او معظم انسان د خپل عظمت او کرامت شپول ماتوي. بیا د دې انسان متعلق الله پاک فرمائي:

" أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ "(11)

**ژباړه**: " دغه کسان په شان د چارپایانو دي، بلکې دوي ډېر ګمراهان دي له چارپایانو نه"(12)

دوي دواړه د انسان دغه دواړه اړخونه داسي بیانوي:

عبدالرحمان بابا:

"په آدم کښي د حیوان خویونه هم شته
بیا ئـې هـاله اٰدم بـوله چي اٰدم شي(13)"

عبدالقادرخان خټک:

"ښۀ آدم تر فرشتو بِه دی
تــر دد بــد دی بـد اٰدم"(14)

دغه ټول کائنات د انسان د خېر ښېګړې دپاره پیدا دی. انسا د څۀ دپاره پیدا دی؟ الله تعالٰی فرمائي:

" وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِیَعْبُدُوْنَ "(15)

**ژباړه**: " او نۀ دي پیدا کړي ما پېریان او بني آدم مګر چي عبادت وکړي زما "(16)

عبدالرحمان بابا ئې داسي بیانوي:

"که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی
ګـڼـه نـشـــته بــل نـعمت پـــه دا دنیا"(17)

د اصطلاح ترمخه د عبادت خوند سړی هله اخستی شي چي عبادت ئې عادت وګرځي. عبدالقادرخان خټک هم د عبادت دغه خوند او مزه په عادت کښي محسوسوي او نعمت ئې ګڼي. وائي:

"چي بدل په عبادت نۀ کړی عادت
بیا بـه نـــۀ مومي لذت د عـبادت"(18)

زمونږ دواړه شاعران، دین بنیاد ګڼي، وائي:

عبدالرحمان بابا:

"اې رحمانه که څۀ کار دی خو د دین دی
نــور کارونه بـــې وفـــا دي بـــې اســـاسه"(19)

عبدالقادرخان خټک:

"مقدم دې تــل پـــه دیـن د دنــیا کـــار وو
اوس د دین کارونه وړاندي دنیا پس کړه"(20)

دالله تعالٰی عبادت د اسلام مطابق ضروري دی. د اسلام دغه رڼا حاصلولو دپاره دحضور ﷺ اطاعت پکاردی. دحضور ﷺ په پل، پل اېښودل پکار دي. د حضور ﷺ په قدم منزل رسېدل دي. په دې حقله الله تعالٰی فرمائي:

" مَنْ یُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰه "(21)

**ژباړه**: " هرچاچي اطاعت وکړو د رسول ﷺ پس په تحقیق سره اطاعت وکړو دۀ د خدائی "(22)

دوي دواړه د رسول الله ﷺ اطاعت ته داسي یادوي:

عبدالرحمان بابا:

"که رڼا ده پېروي د محمد ده

ګڼه نشته په جهان بـله رڼا"(23)

عبدالقادرخان خټک:

"هر امت چې د رسول پیروي نۀ کا
سرنګون به بیا وردرومي جهنم ته"(24)

د دنیا ژوندون همېشه د پاره نۀ دی. دا دنیا به ختمیږي. هر څیز به فنا کیږي. هر ژوندي ته به مرګ راځي.الله پاک فرمائي:

" كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ. وَ يَبْقٰى وَجْه رَبِّک ذُوالْجَلَالِ والْإِكْرام ."(25)

**ژباړه**: "ټول هغه څوک چې په دې زمکه کښې دي،فاني کېدونکي دي او باقي به پاتې شي ذات د رب ستا چې څښتن د لویۍ دی او دعزت ورکولودی "(26)

" كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْت "(27)

**ژباړه**: "هر یو نفس یعنې ژوندی څکونکی د مرګ دی "(28)

د دنیا بې ثباتۍ او د دې نه د تللیو خلقو په حقله دا دواړه څۀ داسې وائي.

عبدالرحمان بابا:

"تـل بـه نـۀ وي شـګـفـتـه ګـلزار د عمر
نـۀ بـه جـوړ وي هـمېشه بـازار د عمر
لکه برق چې مخ ځرګند کاندي بیا نۀ وي
هـسي تـېـز دی بـې سکون رفتار دعمر
پـه سـاعت د سـلو کـالـو یـاري پـرې کا
بـې وفـا پـه هـسي رنګ دی یـار دعمر
عـاقبت بـه د اجـل په مقراض غوث شي
پـېـوسـتـه بـه مـدام نـۀ وي تار د عمر
بـیا ئـې وار پـه دا دنـیا نشته رحمانه
پـه هـرچـا باندي چې تېرشي وار د عمر"(29)

عبدالقادرخان خټک:

"دا چمن بـه تـل زېـبا نـۀ وي پـه ګلو
نۀ بـه تـل بـانـدي غـوغـا وي د بلبلو
نۀ به تل سروه سرسبزه وي په باغ کښې
نـۀ بـه تـل چـینار زرویشي پـه منګلو

نـهٔ بــه تــل ناريې سوريې وي د مستانو
نـهٔ بــه تـل هسي په جوش وي خم د مُلو
نـهٔ بــه تــل عبدالقادر موشگافي کا
نـهٔ بــه تـل جهان خوښبو وي په کاکلو"(30)

د دنیا نه د تللیو خلقو په حقله عبدالرحمان بابا وائي:

"خدايه څـهٔ شو هـغه ښکلي ښکلي خلق
په ظاهر پــه باطن سپين سپېځلي خلق
هيڅ خندا مـي لـه دې خلقو سره نهٔ شي
ژړوي مـــي هـــغــه تـللي تــللي خلق
خبر نـــهٔ يم چي وکومي خــوا ته لاړ شم
ليدی نـهٔ شي هـغـه مـا ليدلي خلق
لکه ځګ چي داوبوپه مخ کښي دررومي
هــسي دررومـي پــه دنــيا راغــلي خلق
دريغه يــو ځــلي خــو بيا په دنيا راغلی
لــه جــهانــه پــه ارمـــان وتــلي خلق"(31)

عبدالقادرخان ختټک ئې داسي بيانوي:

"لــه جــهانــه هــسي رنګ دي ياران تللي
تــهٔ بــه وائې چــي هــر ګــز نهٔ وو راغلي
نشانې ئې په جهان کښي موندی نهٔ شي
هــسي ورک شــول د جـــهان سورو تتلي
د برېښناغوندي ښکاره شول بيافنا شول
پــه ځــيرځــير مـي ورته هيڅ نهٔ وو کتلي
نـــهٔ مـــوسترګي په ليدو سره مړې کړې
نـهٔ مــو وو پـــه ډکه خولهٔ ســره خندلي
ناګـــهانه هـــجران مخ ورتـــه ښکاره کړ
لـــه موږ بيل شول پـه ارمان سينه داغلي
لـــه احــــواله ئـــې خبر نهٔ يم چي څهٔ شول
څوک پـــه بـــيارته ځني نـهٔ دي جاروتلي
نـــهٔ پوهېږم چـــي لـــه کومه لوريه راغلهٔ

بیا ئـــې دي وکـــــوم مـــکان لـــره بیولي"(32)

د انسان د مرګ نه پس به د دنیا د ژوند پوښتنه کیږي. دا دنیا د آخرت دپاره د کروندې ځائی دی. دلته چي ځوک څۀ وکړي هغه به په آخرت کښې ریبي. الله پاک فرمائي:

" مَنْ جَآءَ بِاالْحَسَنَةِ فَلَه' خَيْرٌ مِّنْهَا وَ مَنْ جَآءَ بِاالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَالَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُو يَعْمَلُوْن "(33)

**ژباړه**: " هرچاچیوکړه نېکي پس هغه لره ده غوره له هغې نه او هرچاچي وکړه بدي پس جزا نۀ شي ورکولی هغه کسانو لره چي عمل کوي د بدیو مګر د هغې چي وو دوي چي عمل به ئې کولو "(34)

زمونږ شاعران ئې داسي بیانوي. عبدالرحمان بابا:

"پـــه عـــمـــل د نـــېکو بـــدو فـهم وکړه
چي په دا کښې دې بهبود دی که په دا
د عـــمـــل پـــه ځائی به داپوښتنه نۀ وي
چـــي تـۀ زوی ئې یـا نمسی ئې د فلانا"(35)

عبدالقادرخان خټک:

"تنـها هیڅوک ګورستان لره لاړنۀ دي
خپل عـمل غاړه غړی ورسره زغلي"(36)

"وایم وایم چي چا نۀ وی بیا به وائی
تل عـــمـــل د ښوکـــوه عمل بـه بیائی"(37)

"د نسب د قـــبیلې پـرسش به نـۀ وي
هرسړی بـه پوښتېدۀ شي له اعماله"(38)

د دې دواړو شاعرانو د کلام نه پس د پرتلیز جاج په حقله مونږ دې نتیجې ته رسو چي:

- زمونږ دواړه شاعران د اسلامي تعلیماتو او قرآن فهمۍ څخه خبر وو.
- دعبدالرحمان بابا ژبه ساده،روانه او اسانه ده.
- د وینا انداز ئې خوږ او شیرین دی.
- شاعري ئې لاشعوري رنګ لري.
- دعبدالقادرخان خټک ژبه نسبتاً درنه ده او رواني په کښې کمه ده.
- د وینا انداز ئې مدلل اوعلمي رنګ لري.
- په شاعرۍ کښې ئې شعوري رنګ ښکاري.

## حوالې


(1) القران الکریم،سورة المؤمنون،آیت۱۲
(2) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسیردارمنګي، ناشران زېب آرټ پبلشرزمحله جنګي پېښور،چاپ کال نهٔ لري،مخ۴۱۲
(3) القران الکریم،سورة الفاطر ،آیت۱۱
(4) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسیردارمنګي،مخ۵۲۵
(5) عبدالرحمان بابا ، د عبدالرحمان بابا دیوان، مقدمه و ترتیب: میاسیدرسول رسا ،یونیورستټي بک ایجنسي،خیبربازار پېښور،مخ۲۳
(6) خټک ،عبدالقادر خان،حدیقه خټک ،مدونه و مرتبه: سید انورالحق، یونیورستټي بک ایجنسي،خیبربازار پېښور،مخ ۸۷
(7) القران الکریم،سورة التین،آیت٤
(8) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسیردارمنګي،مخ۷٢٤
(9) القران الکریم،سورة الاسراء،آیت۷۰
(10) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسیردارمنګي،مخ۳٤۹
(11) القران الکریم،سورة الاعراف،آیت۱۷۹
(12) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسیردارمنګي،مخ۲۱۰
(13) عبدالرحمان بابا ،دیوان، مقدمه د مولانا عبدالقادر،اداره اشاعت سرحد قصه خواني بازار پشاور، چاپ کال نهٔ لري،مخ۷۸
(14) خټک ،عبدالقادر خان،حدیقه خټک ،مخ۷۸
(15) القران الکریم،سورة الذٰریٰت،آیت٥٦
(16) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسیردارمنګي،مخ٦۲۹
(17) عبدالرحمان بابا ، دیوان، مقدمه و ترتیب: میاسیدرسول رسا ،مخ۷
(18) خټک ،عبدالقادر خان،حدیقه خټک ،مخ٥۷
(19) عبدالرحمان بابا ، دیوان، مقدمه و ترتیب: میاسیدرسول رسا ،مخ۱٥٥
(20) خټک ،عبدالقادر خان،حدیقه خټک ،مخ۱۱٥
(21) القران الکریم،سورة النساء،آیت۷۰-
(22) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسیردارمنګي،مخ۱۱۱
(23) عبدالرحمان بابا ،دیوان، مقدمه و ترتیب: میاسیدرسول رسا ،مخ۳
(24) خټک ،عبدالقادر خان،حدیقه خټک ،مخ۱۱٥

(25) القران الکريم،سورة الرحمٰن،ايتونه۲۶ ،۲۷
(26) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسيردارمنګي،مخ۶۴۰
(27) القران الکريم،سورة العنکبوت،آيت۵۷
(28) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسيردارمنګي،مخ۴۸۵
(29) عبدالرحمان بابا ،ديوان، مقدمه و ترتيب: مياسيدرسول رسا ،مخ۱۴۲
(30) خټک،عبدالقادر خان،حديقه خټک،مخ۱۰۸
(31) عبدالرحمان بابا ،ديوان، مقدمه و ترتيب: مياسيدرسول رسا ،مخ۱۶۶
(32) خټک،عبدالقادر خان،حديقه خټک،مخ۱۶۳
(33) القران الکريم،سورة القصص،آيت۸۴
(34) دارمنګي،عبدالحق،مولانا ،تفسيردارمنګي،مخ۴۷۶
(35) عبدالرحمان بابا ،ديوان، مقدمه و ترتيب: مياسيدرسول رسا ،مخ۱۱۳
(36) خټک،عبدالقادر خان،حديقه خټک،مخ۱۶۲
(37) خټک،عبدالقادر خان،حديقه خټک،مخ۱۷۰
(38) خټک،عبدالقادر خان،حديقه خټک،مخ۸۰